# د معنوي ملکيت حقوقو لنډه پېژندنه

پوهنمل فضل الرحمن ایوبي، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: fazal.ayoubi@yahoo.com

**لنډیز**

د معنوي ملکيت حقوق د انسان د فکر زېږنده دي او د انسان له ذهني نوښتونو او ایجاداتو څخه عبارت دي. په بله وینا د معنوي ملکيت حقوق له هغو حقوقو څخه عبارت دي چې موضوع يې غير مادي شیان وي. د بېلګې په توګه اختراعات، ادبي او هنري فعالیتونه، ډیزاین، سوداګریزې نښې او علامې چې په سوداګرۍ کې کارول کېږي. معنوي ملکیت د مخترعینو او پنځوونکو لپاره ځانګړي حقوق ورکوي؛ تر څو دوی وتوانېږي د خپلو خلاقانه هڅو یا خپل شهرت څخه ګټه ترلاسه کړي. په دغه څېړنیزه مقاله کې کې د معنوي ملکیت حقوقو مفهوم او د هغې د بېلابېلو ډولونو په تړاو لنډ معلومات وړاندې شوي. معنوي ملکیت بېلابیل ډولونه لري، چې د اختراع، کاپي رایټ، سوداګریزو نومونو او سوداګریزو رازونو څخه عبارت دي. د اختراع حقوق له اختراعاتو څخه ملاتړکوي، کاپي رایټ ادبي او هنري فعالیتونو اړوند مسایل تنظیموي، په داسې حال کې چې سوداګریزې نښې د بېلابیلو شرکتونو محصولات او خدمتونه یو له بل څخه جلا او متمایز کوي او سوداګریز رازونه د محرمانه سوداګریزو معلوماتو خوندیتوب تضمینوي. د معنوي ملکیت حقوقو موخه د نوښتګرو او عامه ګټو تر منځ د تعادل په ټېنګولو سره داسې یو چاپېریال را منځ کېدل دي چې په هغې کې نوښت او اختراع وده وکړي او د معنوي ملکیت حقوقو پنځوونکي تشویق او د پانګونې، سوداګرۍ او تکنالوژۍ د پرمختګ له لارې اقتصادي وده هڅوي. دغه څېړنیزه مقاله د توصیفي څېړنې له نوعې څخه ده، چې د معلوماتو په راټولولو کې له کتابتوني مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

**کلیدي کلمې:** اختراع، تألیف، سوداګریزنوم، سوداګریز رازونه، صنعتي حقوق.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم،الحمد الله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین اما بعد.**

الله جل جلاله پوهه او تفکر د انسان په فطرت او طبیعت کې نغښتي دي، ځکه انسان د خپل استعداد او فکر په مرسته تل کوښښ کوي تر څو داسې یوه طرحه را منځته کړي، چې د خپلې ټولنې له پرمختګ سره مرسته وکړي او خپلې معنوی او مادي ګټې تر لاسه کړي.

نن ورځ معنوي ملکیت حقوق د اقتصادي سیاست د بنسټیزو مسایلو په توګه د اقتصادي پرمختیا لپاره مهمه وسیله او په سوداګریزو معاملاتو کې یوه ارزښتمنه پانګه ګڼل کېږي.

نن ورځ د معنوي ملکیت حقوق د هېوادونو په اقتصادي او فرهنګي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. نوموړي حقوق نوښتګرو، مخترعانو، پنځوونکو او څېړنیزو موسسو ته دا زمینه برابروي ترڅو د خپلو فکري فعالیتونو د محصولاتو څخه ګټه پورته کړي او د نورو اشخاصو د ناوړه استفادې څخه یې مخنیوی وکړي.

د معنوي ملکیت حقوقو یوه بنسټیزه موخه نوښتګرو او پنځوونکو ته د انحصاري حقوقو د ورکولو له لارې نوښتونو او ایجاداتو ته د خلکو له هڅونې څخه عبارت ده. نوموړي حقوق نه یوازې دا چې اشخاصو او شرکتونو ته دا زمینه برابروي تر څو د خپلو محصولاتو او خدمتونوڅخه ګټه پورته کړي، بلکې د سالمې سیالۍ په پیاوړتیا او نویو بازارونو په را منځته کېدو کې هم مرسته کوي او همدارنګه د نورو اشخاصو په واسطه د دوی د معنوي ملکیت څخه د ناوړه استفادې څخه مخنیوی وکړي.

د هېوادونو په اقتصادي سیاست جوړوونه باندې د تکنالوژۍ او ورځ تر بلې د صنعت د پرمختګ آغېز د دې لامل شوی تر څو د نوښتګرو او پنځوونکو فکري او معنوي فعالیتونو قانوني ملاتړ ته پاملرنه و شي په دې کتابتوني څېړنیزه مقاله کې به د معنوي ملکیت حقوق او د هغې بېلابېل ډولونه په لنډه توګه وڅېړل شي.

**موخې**

۱ – د معنوي ملکیت په مفهوم باندې پوهېدل.

۲ – په ملي او نړیواله کچه د معنوي ملکیت د بېلابیلو برخو د قانوني ملاتړ په حدودو باندې پوهېدل.

۳ – د معنوي ملکیت د قانوني ملاتړ لپاره د اړینو شرایطو پېژندل.

۴ – د ټولنې په اقتصادي، سوداګریزه او علمي پراختیا کې د معنوي ملکیت حقوقو په اهمیت باندې پوهېدل.

**کړنلاره او کار توکي**

دا څېړنیزه مقاله د څېړنې د توصیفي ډول څخه ده، چې د معلوماتو په را ټولولو کې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخېستل شوې دهکې د توصیفي مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده. لومړی د موضوع اړوند مواد د بېلابیلو معتبرو کتابونو، مقالو او انټرنیټي پاڼو څخه را ټول د تحلیل او تجزیې وروسته د مقالې په بڼه ترتیب او لیکل شوي دي.

**د معنوي ملکیت حقوقو تعریف**

د معنوي ملکیت حقوق عنوان د حق، ملکیت او معنوي له درېیو کلمو څخه مرکب دی، نو مخکې له دې چې معنوي ملکیت حقوق تعریف کړو غوره به وي چې لومړی حق، ملکیت او معنوي وپېژنو.

حق له هغه صلاحیت، سلطې، امتیاز او اقتدار څخه عبارت دی چې یو شخص یې د نورو اشخاصو او اشیاوو په وړاندې لري او د قانون له خوا حمایت کیږي (یو شمېر لیکوالان، ۱۳۸۷، ص:۷۷).

ملکیت هغه حق دی چې په مقتضا یې یو شی د شخص تر ارادې او تسلط لاندې راځي او یوازې ښتن یې کولای شي د قانون له حکمونو سره سم د هغه په کارونه، ګټه اخیستنه او هر راز مالکانه تصرف لاس پورې کړي(یو شمېر لیکوالان،۱۳۸۷، ص:۲۷٦).

معنوي په لغت کې د باطني او حقیقي په معنی دی او د مادي، ظاهري او صوري په مقابل کې کارول کېږي. او معنوي کلمه د معنوي حقوقو ملکیت په اصطلاح کې یوازې دې ته اشاره کوي، چې په مادي حق پورې تړاو نه لري، بلکې د انسان د فکري فعالیت زېږنده دی (میرحسیني، ۱۳۸۵، ص:۱۸ -۱۹).

د پورته توضیحاتو په پام کې نېولو سره د معنوي ملکیت حقوقو تعریف داسې کولای شو: د معنوي ملکیت حقوق له هغه حقوقو څخه عبارت دي چې د هغې خاوند ته د انسان د فکر او نوښت د محصولاتو څخه د انحصاري ګټې اخېستنې واک ورکوي( کاتوزیان،۱۳۹۰، ص:۲۴).

**د معنوي ملکیت د ساتنې لپاره دوه دلیلونه شتون لري:**

لومړی د منځته راوړونکو مادي او معنوي حقوقو ته قانوني اړخ ورکول او یادو آثارو ته د ټولنې د لاسرسي له حقوقو څخه ملاتړ.

دویم د دولت د پالیسی په توګه د خلاقیت برخې ته وده ورکول او له هغې څخه د را منځته شویو پایلو خپرول او پلې کول او منصفانه آسوداګری ته هڅول تر څو په ټولنیزه، فرهنګي او اقتصادي پراختیا کې مرسته و کړای شي ( WIPO. 2008, intellectual property handbook. (Second edition. Geneva.p3

**د معنوي ملکیت حقوقو څانګې**

د معنوي ملکیت حقوق په دوو اصلي برخو ویشل کېږي، چې یوه یې د صنعتي ملکیت حقوق او بله برخه یې د ادبي او هنري ملکیت حقوق دي. د صنعتي ملکیت حقوق لکه څه ډول چې د پاریس کنوانسیون کې د صنعتي ملکیت څخه د ملاتړ لپاره راغلي دي د هغې عام مفهوم دی. صنعتي ملکیت په عام مفهوم سره یوازې صنعت او سوداګري په بر کې نه نیسي؛ بلکې د زراعتي او استخراجي صنایعو څانګو او ټول مصنوعي یا طبیعي محصولاتو لکه د میوې، ګل، معدني موادو، معدن اوبه او غلو دانو ته هم شاملېږي. د پاریس کنوانسیون په پام کې نېولو سره د صنعتي ملکیت موضوع د اختراع پاڼې، د مصرفي شیانو نمونې، صنعتي طرحې او موډلونه، د کارخونو او سوداګریزو نښو او د سوداګریزو خدماتو او نومونو اړوند نښې او علایم او د جنس د مبدأ ځانګړنې یا اصلي نوم او همدارنګه د نامشروع سیالۍ څخه مخنیوی دی.

د معنوي ملکیت د اړخونو یا د معنوي ملکیت د آسوداګرۍ اړوند هوکړه لیک(تریپس) کې، سواګریز رازونه او جغرافیوي نښې هم د ملاتړ وړ صنعتي ملکیتونو تر عنوان لاندې پېژندل شوي دي (میرحسني، ۱۳۸۵،ص:۲۲).

لکه څنګه چې د صنعتي ملکيت څخه د ملاتړ په موخه د پاريس په کنوانسيون کې د معنوي ملکيت د اړخونو اړوند هوکړه ليک کې راغلي دي ويلی شو چې د صنعتي ملکيت حقوق په ګڼو برخو ويشل کېږي، لاندې هره يوه برخه تر څېړنې لاندې نيسو:

**اختراع**

د صنعتي ملکيت حقوقو يوه بېلګه اختراع ده، د نړۍ د زياتره هېوادونو په قوانينو کې اختراع نه ده تعريف شوې، په داسې حال کې چې د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون کې اختراع دا ډول تعريف شوې ده: د يوې صنعتي، کرنيزې يا خدماتي پايلې يا محصول د تر لاسه کولو لپاره په نوې طريقې له موجودو وسايلو څخه په ګټې اخېستنې سره د نوې پديدې را منځته کول دي چې تر هغې د مخه مثل ونه لري(د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده، ۳، فقره،۱).

د اختراع او د اختراع د تصديق پاڼې تر منځ توپير شتون لري، د اختراع د ثبت تصديق پاڼه هغه سند دی چې د اختراع څخه د ملاتړ په موخه د دولت او يا سيمه‌ييز دفتر له خوا صادري، کوم چې د اختراع ايجادوونکی معرفي کوي او حقوقي وضعيت را منځته کوي چې پر بنسټ يې مخترع کولای شي د مالک په توګه له هغې څخه په انحصاري توګه ګټه پورته کړي.

د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون څلورمې مادې (۳) فقره په دې هکله داسې صراحت لري: «د اختراع د ثبت تصديق پاڼه هغه سند دی چې د اختراع د معرف په توګه د ثبت د دفتر له خوا مخترع ته ورکول کېږي».

همدارنګه اختراع يا اکتشاف، د مخترع يا مکتشف انحصاري حق دی، چې توليدي عرصې، پروسس، نوې تکنالوژي او اختراعي قدمې چې د صنعتي کارونې وړتيا ولري پکې شاملې دي، تر ملاتړ لاندې نيول کېږي. په دې شرط چې د قانون د حکمونو مطابق ثبت شوي وي ( د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده،۴، فقره،۱).

**د ثبت وړ اختراع**

د ثبت حق يا هماغه د اختراعاتو انحصاري حق چې د کليمې په پراخه معنی سره د اختراعګانو د حقوقو د ساتلو په معنی دی. په بل عبارت د اختراع حق، د دولت په واسطه يوه مخترع ته هغه ورکړل شوی حق دی چې مخترع ته اجازه ورکوي چې د يوې محدودې دورې لپاره نور کسان د غير مجازې سوداګرۍ څخه منع کړي. د يادولو وړ ده چې ټول اختراعات د ثبت وړ نه دي. په عمومي توګه قوانين هغه اختراع د ثبت وړ ګڼي چې لاندې شرايط ولري:

**نوی والی:** اختراع هغه مهال نوې ګڼل کېږي چې په موجوده صنعت يا پخوانی پوهه کې شتون و نه لري. له پخواني علم څخه موخه دا ده چې د اختراع د ثبت د غوښتنې له نېټې يا تقدم حق څخه پخوا

په هره بڼه نشر او عملاً د استفادې وړ ګرځېدلي او د خلکو په واک کې وي. په واقعيت کې اختراع بايد د نوي والي ځانګړنه ولري، چې د يادې ځانګړنې سابقه په علم او د نوموړي اختراع اړوند فني برخه کې يې وړاندوينه نه وي شوې، چې دغه پخوانۍ پوهې ته «prior Art» ويل کېږي. د وايپو موډل قانون سره سم هغه اختراع نوې ګڼل کېږي چې د پوهې يا اګاهی په قلمرو کې شتون ونه لري او پخوانۍ پوهه او اګاهي د علمي او فني معلوماتو ټولګه ده چې د اختراع په علمي او فني ساحه کې شتون ولري (مبشري،۱۳۹۴، ص:۴).

**نوښتګرانه قدم**

د نوښتګرانه والي څخه موخه دا ده چې يوازې هغه مهال د يوې اختراع د صحت ادعا کېدای شي چې د هغې په موجب د موجوده پوهې په سطحه باندې يو څه زيات شوي وي او د نظر وړ ابداع د ټولنې د پوهې د عمومي سطحې په نسبت يو قدم وړاندې وګڼل شي. د نوي والي له شرط سره د دې شرط توپير په دې کې دی چې د اختراع نوی والی د اختراع د موضوع پخوا شتون و نه لري، په داسې حال کې د اختراع نوښتګر والی هغو موارډو ته شامليږي چې له پخوا شتون ولري خو د پايلې د ترلاسه کولو د پخواني محصول د کارونې په تګلاره کې تغييرات را منځ ته شوي وي (مبشري،۱۳۹۴، ص:٦).

**په صنعت کې د پلې کېدو وړتيا ولري**

داختراع يو بل شرط دا دی چې ادعا شوې اختراع بايد په صنعت کې د کارونې وړتيا ولري، په دې معنی چې اختراع بايد و کولای شي چې په صنعت او يا سوداګريزو موخو کې د استفادې وړ وګرځي. بنا پر دې که ادعا شوي اختراع يوازې يوه نظري پديده او محصول وي، که ګټوره هم وي د اختراع په نوم د ثبت وړ نه ده (مبشري،۱۳۹۴، ص:۹).

اختراع بايد د هغو موارډو په محدوده کې وي چې د ملي قوانينو په واسطه تعريف کېږي. ياد موارد له يو هېواد څخه بل هېواد ته توپير کوي. زياترو هېوادونو د علمي تئوری، رياضي فورمولونه، د بوټو ډولونه، د طبيعي موادو کشف، د درملني روشونه(د درملو د توليد پرته) او هر هغه اختراع چې د هغې د آسوداګرۍزې ګټه اخېستنې مخنيوی د عامه نظم ساتلو، نيکو اخلاقو يا عامې روغتيا لپاره لازم دی، د ثبت وړ اختراع ګانو څخه خارجوي (براتی،۱۳۸۲، ص:۸).

په افغانستان کې لاندې څلور موارده اختراعات په ګوته شوي دي، چې د ثبت وړ نه دي:

۱- مالي جدول.

۲- هغه اختراع يا اکتشاف چې د افغانستان په سوداګرۍ کې د هغو ګټه اخېستنه عامه امن او نظم، اسلامي، ملي ارزښتونو او د ژوند چاپېريال ته د خطر د را منځ ته کېدو لامل ګرځي.

۳ – د انسان يا حيوان د تداوۍ لپاره د درملنې او جراحۍ د تشخيص تګلارې.

۴-له مایکرو ارګانیزمونو څخه بغیر بوټي او حیوانات او د بوټو او حیواناتو د تولید لپاره اساساً بیولوژیکي پروسه( د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده،۱۷).

**سوداګریزه نښه (علامه)**

سوداګریزه نښه یا لوګو هغه نښان دی چې د توکو تولید کوونکی یا خدمتونو وړاندې کوونکی شرکت له نورو شرکتونو او یا حقیقي او حقوقي اشخاصو څخه جلا کړي. سوداګریزې نښې هم د فکري ملکیت یو ډول ګڼل کیږي.

د سوداګریزو نښو د ثبت اصولنامې په بنسټ سوداګریزې نښې له داسې شکلونو او اشارو څخه جوړې دي چې د صنعتي، سوداګریزو، زراعتي تولیداتو د تشخیص په موخه استعمالیږي، لکه نقشې، تصویرونه، حروف، د لاسلیک عنوان، د منسوجاتو حاشیې، لفافه بندي او نور چې د محصولاتو د تشخیص وسیله ګرځېدلي وي.

سوداګریزه نښه، هغه نښه یا نښو تر کیب دی چې وکولای شي کالي یا خدمتونه له نورو کالیو یا خدمتونو سره توپیر کړي(د سوداګریزو نښو د ثبت قانون،۱۳۸۸، ماده۳ ، فقره۱).

دلته پوښتنه پیدا کیږي چې کوم شیان د سوداګریزو نښو په توګه کارول کیږي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې باید و وایو چې (یو یا له یوه څخه زیات) نومونه، کلمه، لاسلیک، توری، شکل، نقشه، عنوان، مهر، انځور، لیکنه، نمونه یا په هغو پورې اړوندې نورې علامې او ترکیبونه په سوداګریزو علامو کې شامل دي(د سوداګریزو نښو د ثبت قانون،۱۳۸۸، ماده، ۴).

**د نښو وېش**

په ټوله کې نښې په درو ډولونو وېشل کیږي، چې د سوداګریزو، صنعتي او خدماتي نښو څخه عبارت دي.

**سوداګریزې نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي چې سوداګر یې د هغو کالیو د تمیز او تشخیص لپاره کاروي، چې له اخېستلو وروسته غواړي هغه و پلوري، ویې کاروي، که هغه یې له عمده پلورونکي څخه اخېستي وي او که نیغ په نیغه یې له تولیدونکي څخه اخیستي وي.

**صنعتي نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي چې تولیدونکی غواړي خپل محصولات په هغې سره په نښه کړي، تر څو له نورو تولیداتو سره یې توپیر وشي.

**خدماتي نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي، چې له نور خدمتونو څخه د يوه خدمت تميز او تشخيص لپاره غوره کېږي، لکه ترانسپورتي، توريستي، چټک پست، هوټل داري او اتصالاتو خدمتونه. پورته درې واړه نښې د قانوني ملاتړ له اړخه يوه له بلې سره توپير نه لري او درېيو واړو لپاره د «سواگريزې نښې» لفظ کارول کېږي (ناصح، ۱۳۹۱، ص:۱۹).

د يادولو وړ ده چې هغه سوداگريزه نښه چې له دوو څخه په زياتو هېوادونو او يا په نړيواله کچه دود وي، مشهوره نښه بلل کېږي.

**د سوداگريزو نښو ځانگړنې**

د سوداگريزو نښو د تعريف څخه پوهېږو چې سوداگريزه نښه بايد لاندې ځانگړنې ولري:

۱ - سوادگريزه نښه بايد متمايزه وي: د سوداگريزې نښې يوه ځانگړنه دا ده چې د يو شرکت اړوند توليدات او خدمات له بل شرکت څخه توپېر کړي. ځکه که سوداگريزه نښه دا ځانگړنه ونه لري د مشتري سره د علاقې وړ کاليو په انتخاب کې مرسته نه شي کولای.

۲ – سوداگريزه نښه بايد نوې وي: د سوداگريزې نښې لپاره يوازې متمايز والی بسنه نه کوي. بلکې د هغې نوی والی هم اړين دی. د سوداگريزې نښې له نوي والي څخه موخه دا ده چې پخوا به عين کاليو او خدماتو کې د همدغه هېواد په جغرافيايي محدوده کې کارول شوي نه وي.

۳ – سوداگريزې نښې بايد گمراه کوونکي نه وي: سوداگريزه نښه بايد خلک او سوداگريز شرکتونه په ځانگړي توگه د کاليو او خدماتو د مبداء يا ځانگړنو په هکله گمراه نه کړي(مير حسينی، ۱۳۸۵، ص:۱۲۸).

د افغانستان د سوداگريزو نښو د ثبت قانون سره سم هغه موارد چې د سوادگريزو نښو استعمال يا ثبت يې منع کړی په لاندې توگه دي:

- ملي بيرغ، دولتي نښان او نور دولتي، د سازمانونو، کورنيو او بهرنيو هېوادونو نښانونه، خو دا چې د هغو استعمال کتباَ مجاز گڼل شوي وي.
- محراب او منبر يا هر ډول هغه علامې چې له نښانونو يا په بښپړه توگه د مذهبي ماهيت لرونکو علاماتو سره يو ډول وي.
- د ملي مشرانو او لوړو دولتي مقاماتو انځورونه.
- هغه کلمې او عبارتونه چې له هغو څخه د دولتي ادارو په نسبت اشتباه وشي.
- د سرې مياشتې، سره صليب په څېر رسمي موسسو علامې يا نورې ورته علامې او له هغو څخه تقليد.
- هغه علامې چې د عفت، اخلاقو، او عامه نظم منافي وي.

ـ هغه جقرافیوي اشتهارونه چې استعمال یې د اجناسو، محصولاتو یا خدمتونو د منشاء یا سرچینې د مغشوشېدو باعث ورګرځي.
ـ د ثالث شخص نوم، کورنی نوم، عکس یا نښان، خو دا چې د هغه یا د هغه د ورثې موافقه یې په هکله د مخه اخیستل شوې وي.
ـ هغه علامې چې د خلکو د غولیدو یا د مالونو، محصولاتو یا خدمتونو د منشاء، سرچینې یا نورو ځانګړنو په هکله د کاذبو معلوماتو سبب وګرځي.
ـ هغه علامې چې په حقیقي یا حکمي اشخاصو پورې اړوندې وي او پکارول یې منع شوي وي.
ـ د هغو کمپنیو علامې چې په افغانستان کې خپرې او ترویج شوې وي، خو د هغه د مالک په اجازه.
ـ په یو شان اجناسو یا خدمتونو پورې اړوندې یا د ورته والي لرونکې ثبت شوې سوداګریزې علامې یا نښانونه وي.
ـ هغه علامې چې کارول یې د ځانګړو موخو لپاره تشخیص شي (د سوداګریزو نښو د ثبت قانون، ۱۳۸۸، ماده،۸).

**سوداګریز نوم**

د معنوي ملکیت په توګه د شرکتونو سوداګریز نوم د پام وړ اقتصادي ارزښت لري؛ حتی ځیني وخت د شرکت د فزیکي مالونو څخه زیات ارزښت لري په داسې توګه چې په ځیني پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې د قانوني ملاتړ وړ دي. سوداګریز نوم له هغه آسوداګریز نوم یا عنوان څخه عبارت دی چې یو شرکت او د هغې سوداګریز فعالیتونه له نورو شرکتونو څخه جلا کړي (WIPO. 2008, intellectual property handbook. Second edition. Geneva.p.152).

په ټولیزه توګه سوداګریز نوم له هغه نوم یا نښې څخه عبارت دی چې سوداګریز شرکت مشخص کړي او هغه له نورو شرکتونو څخه متمایز او جلا کړي.

د پورتنیو تعریفونو څخه پوهیږو چې سوداګریز نوم، نوم یا عنوان دی او په دې بنسټ عکس، عدد او داسې نور د سوداګریز نوم په توګه نشي غوره کېدای. په تعریف کې د مشخص او جلا کوونکی دا معنی چې سوداګریز نوم باید له یوه پلوه د توپیر کولو وړتیا ولري او له بله پلوه باید د مشتریانو لپاره مغشوش کوونکی نه وي (رجبی، عیسی، ۱۳۹۴، ص.۲۲۴).

د هر کارو بار لپاره ځانګړی سوداګریز نوم ټاکل د سوداګریزو تبلیغاتو په برخه یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي. ځانګړی سوداګریز نوم هم د سوداګریزې نښې په څېر په فرد پورې منحصر او په حقوقي نظامونو کې د معنوي ملکیت له ډولونو څخه ګڼل کېږي. د دې لپاره چې د ځانګړي سوداګریز نوم څخه د نور کسانو په واسطه د ناوړه کارونې مخنیوي شوی وی، باید په قانوني بڼه ثبت شي.

## سوداګریز اسرار

سوداګریز اسرار یا رازونه د محرمې فني پوهې او د هغو ګټورو معلوماتو د راټولولو څخه عبارت دي، چې د ځانګړو صنعتي فعالیتونو په تر سره کولو او یا د یوې صنعتي موخې د ګټورو مهارتونو د پراختیا لپاره اړین وي. دا چې کوم شیان فني پوهې ته شامليږي او ګټور معلومات څه شی دي، باید د هغو موضوعاتو او کړنو په چوکاټ کې چې د سوداګریزو اسرارو برخه ګڼل کېږي معرفي شي.

د افغانستان د سوداګریز او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون د سوداګریزو او صنعتي اسرارو په هکله دا ډول صراحت لري:« سوداګریز او صنعتي اسرار مالي، تخنیکي، علمي، سوداګریز، تولیدي او نور هغه معلومات دي چې حالتونه یې په دې قانون کې بیان شوي دي(د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۳، فقره،۱).

د یادولو وړ ده چې هر ډول معلومات سوداګریزو او صنعتي اسرار نه ګڼل کېږي، بلکې د معلوماتو لپاره ځیني شرایط اړین دي. په دې هکله پورته یاد شوی قانون داسې صراحت لري : سوادګریز او صنعتي معلومات هغه مهال سوداګریز او صنعتي اسرار ګڼل کېږي چې لاندې شرایط ولري:

۱ - محرم وي یا د هغو ترکیبي اجزاء په دقیق، کلي یا جزئي ډول د هغو اشخاصو لپاره چې ورسره سرو کار لري معلوم نه وي، یا په اسانۍ سره د لاسرسی وړ نه وي.

۲ – د محرمیت پر بناء د سوداګریز ارزښت لرونکي وي.

۳– مالک یا د هغه قانوني استازی د هغو د محرمیت د ساتنې لپاره، لازم تدبیرونه نیولي وي(د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۵، فقره،۱).

د جاپان د حقوقو له مخې سوادګریز رازونه په دوو برخو ویشل کېږي:

۱ – د حس وړ موارد، لکه د تولید روشونه، فرمولونه، طرحې، نقشې، قالبونه، فني سوابق، لیکلي توضیحات، خام مواد، د عملي زده کړو فهرست او داسې نور

۲ – غیر محسوس موارد، لکه د تولید مرحلې، هغه لارښوونې او دستور چې په بنسټ یې شیان جوړیږي، د وسایلو او آلاتو جزئیات، فني او زده کړه ییزې تجربې چې هغه ته ورته او د پېژندل شویو عمومي معلوماتو څخه په لاس راغلي وي(نذیر، ۱۳۹۱، ص.۲۰۵).

## جغرافیوي نښې

جغرافیوي نښې دا مشخص کوي چې د یوه محصول مبدا د یوه غړي هېواد په قلمرو کې او یا د یاد قلمرو په یوه سیمه او برخه کې ده. د محصول کیفیت، شهرت او نورې ځانګړنې په بنسټیزه توګه جغرافیوي مبداء ته د انتساب وړ وي(WTO,1994,art.22).

په ملي اونړيواله کچه د جغرافيوي نښو څخه ملاتړ د هغو هېوادونو لپاره چې د ځانګړيو دوديزو توليداتو او لاسي صنايعو لرونکي دي د زيات اهميت څخه برخمن دی.
جغرافيوي نښې هغه نښې دي کوم توليد چې مشخصه جغرافيوي منشاء او صفت لري، هماغه د توليد ځای ته يې نسبت ورکوي. دا معمول ده چې زراعتي محصولات خپل صفت د توليد له ځای څخه اخلي او د جغرافيوي او سيمه ايزو عواملو څخه لکه خاوره، اوبه او هوا څخه اغيزمن کېږي.د يادولو وړ ده چې جغرافيوي نښې يوازې په زراعتي محصولاتو پورې منحصر نه دي، بلکې شونې ده چې هغه د نورو مشخصو صفتونو لپاره هم و کارول شي لکه صنعتي مهارتونه. شوني ده چې د ياد توليد ځای يو کلی، ښار او يا هم يو هېواد وي(ناصح،۱۳۹۱،ص.۵۳).

**د توليد د مبداء نوم**

د توليد د ځای نوم اېښودل يوه ځانګړې جغرافيوي نښه ده او د هغو توليداتو لپاره کارول کېږي چې ځانګړی صفت لري او يا په بنسټيزه توګه په هغه جغرافيوي محيط پورې تړاو لري چې توليداتو له هغه ځايه نشأت کړی وي. د توليد د مبدأ ځای نومول په غړو هېوادونو کې د ملاتړ وړ دی، د بېلګې په توګه د کيوبا د هابانا په سيمه کې کارل شوي تنباکو (ناصح،۱۳۹۱،ص.۵۳).
د جغرافيوي نښو او د توليد د مبدأ توپير د هغې له تعريفونو څخه څرګندېږي. جغرافيوي نښې يوازې د دې ښکارندويي کوي، چې توکو او محصولاتو له ټاکلي ځای څخه نشأت کړی دی او کېدای شي چې د ځای او محصول تر منځ کيفي تړاو شتون و نه لري؛ په داسې حال کې د توليد د مبدأ ځای نوم د توکي يا محصول د نشأت ځای پر معرفی سربېره د دې ښکارندويي هم کوي چې د توکو کيفيت او ځانګړنې په انحصاري او يا په بنسټيزه توګه د ځانګړي جغرافيوي محيط څخه را پورته شوي دي. په بل عبارت د مبدأ هره نښه د منبع نښه هم ده خو د منبع هره نښه د مبدأ نښه نه ده(ميرحسيني، ۱۳۸۵،ص.۱۸۷).

**صنعتي طرحې**

صنعتي طرحه د معنوي ملکيت د يو ډول په توګه يوازې د يوه محصول د ښکلا پېژندنې او تزئيني ماهيت څخه بحث کوي او يوازې د يوه محصول ظاهري بڼې پورې تړاو لري. شونې ده فني او نوښتګرانه ځانګړنې هم ولري. خو په بنسټيزه توګه صنعتي طرحې د هغې له فني اړخونو سره توپير لري، د بېلګې په توګه هغه اندازه او رنګ چې د يوه محصول لپاره غوره کېږي، صنعتي طرحه ده.
د افغانستان د صنعتي طرحو څخه د ملاتړ قانون د صنعتي طرحې په هکله وايي: «صنعتي طرحه هغه اصلي يا نوي دوه يا څو بعدي طرحه ده چې صنعتي محصول په کرښو، رنګونو او د هغې اشکالو يا نورو هغو مشخصاتو په ترکيب سره چې په سترګو ليدل کېږي، څرګندوي(د افغانستان د صنعتي طرحو څخه د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ۳، ۱).

لاندې درې موارده صنعي طرحې نه شي ثبت کیدای:

- په هغه صورت کې چې له مخکینیو ثبت شویوطرحو سره په داسې توګه ورته او یو ډول وي چې د خلکو د ذهن د ګډوډېدو لامل وګرځي.
- په هغه صورت کې چې د عملي یا تخنیکي کتنو (ملاحظاتو) او یا معماری او ودانیزو اصولو د تګلارې لپاره، و کارول شي.
- په هغه صورت کې چې د عامه اخلاقو او آدابو مخالفه وي (د صنعتي طرحو د ملاتړقانون، ۱۳۹۵، ماده،۷).

د صنعتي طرحې د انحصاري حقوقو د ملاتړ موده (۱۰) کاله ده او د صنعتي طرحې د ثبت له نېټې څخه، پیلېږي(د صنعتي طرحو د ملاتړقانون، ۱۳۹۵، ماده،۱۸).

**د ادبي او هنري ملکیت حقوق**

لکه چې وړاندې مو وویل د معنوي ملکیت حقوق په دوو برخو ویشل کېږي، چې یوه برخه یې د صنعتي ملکیت حقوق دي او بله برخه یې د ادبي او هنري ملکیت له حقوقو څخه عبارت دي. ادبي او هنري ملکیت حقوق په دوو برخو ویشل کېږي چې یو یې د مؤلف حقوق او بل یې جانبي حقوق دي چې لاندې هره یوه برخه باندې بحث کوو:

**د مؤلف حقوق**

د نړۍ ټول دولتونه دې ته ژمن دي چې د مؤلف له حقوقو څخه ملاتړ وکړي. لومړنی ژمنلیک چې په دې تړاو را منځ ته شوی دی، هغه د بِرن له ژمنلیک څخه عبارت دی چې په ۱۹۶۷ م. کال کې په بروکسیل کې نهایي شو او د ټولو دولتونو له خوا لاسلیک شو.

د تالیف حق مفهوم: تالیف چې ریښه یې «ألف» دی له یو شي سره د بل شي د ضمیمه او یو ځای کېدو په معنی دی. د مبحثونو لیکلو ته او همدارنګه د کتاب تدوین ته تالیف ویل کېږي؛ ځکه لېکوال متناسب او همغږي مطلبونه یو د بل تر څنګ سره را ټولوي. له هغه ځایه چې لیکوال د علم، ادب یا هنر په برخه کې د واحدې موضوع اړوند مطالب جمع کوي هغه ته مولف ویل کېږي(شبیر، ۱۳۸۱، ص. ۷).

تالیف هغه مفهوم دی چې یو ډول نوي او ابداعي کړنه باندې مشتمل وي که هغه د اهمیت له اړخه په هره درجه کې وی. د بېلګې په توګه مؤلف داسې داسې نوی استنباط او برداشت وړاندې کړي چې له ده مخکښې چا مطرح کړی نه وي. یا د هغو څېړنو چې صورت یې نېولی تفسیر او فصل بندي کړي، یا هغه طبقه بندي کړي د هغې تېروتنې اصلاح کړي او نېمګړتیاوې یې بشپړې کړي او یا یې د زده کوونکو د ښې زده کړې او یادولو د اسانتیاو په موخه له هغې څخه تکراري مطالب خذف کړي(شبیر، ۱۳۸۱،ص. ۷).

**د ملاتړ وړ حقوق**

د افغانستان د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حقوقو ملاتړ قانون د احکامو سره سم لاندې آثار تر ملاتړ لاندې نیول کېږي:

۱ – ادبي اثر لکه کتاب، رساله، بروشر، مقاله، نمایشنامه او نورې علمي او هنري لیکنې.

۲ – شعر، ترانه او هغه تصنیف چې په هر بله وسیله او روش لیکلي، ضبط، یا خپور شوی وي.

۳ – سمعي او بصري اثر...

۴ – د هر ډول ورسره کلماتو په شمول د موسیقۍ اثر چې په هره وسیله او روش لیکلی، ضبط یا خپور شوی وي.

۵ – نقاشي، تصویر، طرح، رسامي، ګرافیکي آثار، خطي نوشتې، حکاکي، سنګي چاپ، تزئیني نوشتې او نور ترسیمي او تجسمي آثار چې په هره طریقه او روش په ساده یا ترکیبي صورت منځ ته راغلي وي.

۶ – پیکره.

۷ – عکاسي اثر چې په ابتکاري یا ابداعي روش منځته راغلی وي.

۸ – د قالینې، ګیلم، لیمځي او د هغو د ملحقاتو او مثالونو د نقشې لاسي یا صنعتي هنرونو پورې اړوند اصلي اثر.

۹ – هغه اصلي اثر چې د عامه فرهنګ یا د ملي فرهنګي او هنري میراث پر بنسټ منځته راغلی وي.

۱۰ فني اثر.

۱۱ – کمپیوټري برنامې.

۱۲ – اقتباسي اثر.

۱۳ – معماري (مهندسي) اثر.

۱۴ – تصنیفي اثر (د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۹۵، ماده، ۷).

**له آثارو څخه د ملاتړ شرایط**

د دې لپاره چې پورتني آثار د ملاتړ څخه برخمن شي باید د لاندې شرایطو لرونکي وي:

**۱ – اصیل والی:** اصیل والی او نوښت د نوي والي څخه جلا دی. حتی که یو اثر د بل څخه وروسته وي، خو په جلا او خپلواکه توګه برابر شوی وي، د دواړو آثارو تر منځ د ورته والي سره سره دواړه آثار د ملاتړ لاندې راځي. البته نوی والی د اختراعي آثارو د ملاتړ له شرایطو څخه دی.

**۲ – مشروعیت:** آثار باید د ټولنې د ګټو او منافعو څخه ملاتړ وکړي او که چېرې یو اثر د عمومي نظم او د نیکو اخلاقو سره مخالف وي په شرعي او حقوقي لحاظ د ملاتړ لاندې نه راځي (انتظاری، ۱۳۸۲، ص. ۳۹).

**د ادبي او هنري ملکیت اړوند مادي حقوق**

د اثر منځته راوړونکی د لاندې حقوقو لرونکی دی:

۱ - د اثارو تولید او بیا تولید.

۲ - د اثر د ژباړې په شمول د ملاتړ شوو آثارو پر بنسټ د اقتباسي آثارو برابرول او ترتیب.

۳ - عامه خلکو ته د خرڅلاو، د ملکیت د انتقال، اجارې، عاریت او یا پرېښودو ته د اثر ویش.

۴ - په هره وسیله او شکل د تصویرونو یا متحرکو تصویرونو او یا نورو سمعي او بصري آثارو په شمول په عام محضر کې نمایش.

۵ - د عامه نمایش په شمول په هر شکل د اشکالو په عام محضر کې د ملاتړ شوو آثارو نمایش.

۶ - د اړوند اثر په هکله د معلوماتو د زمینې برابرول.

۷ - د اثر خپرول یا د سمعي او تصویري وسایلو له لارې د اثر په هکله له عامه خلکو سره د ارتباط نیول.

۸ - په مادي او معنوي شکل په اثر کې د خپل نوم له ذکر کولو څخه ګټه اخیستل(د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړقانون،۱۳۹۵، ماده،۱۱).

**د ادبي او هنري ملکیت اړوند معنوي حقوق**

د افغانستان د کاپي رایټ قانون مطابق د اثر منځ ته راوړونکی د لاندې معنوي حقوقو لرونکی دی:

۱ - په اثر کې د نوم یا مستعار نوم ذکر کول یا نه ذکر کول.

۲ - د هغه اثر په هکله چې د اثر د منځته راوړونکي عزت یا شهرت ته زیان ورسوي د هر ډول تحریف، توضیح، اصلاح یا تحقیروونکي عمل منع.

۳ - د اثر پر هر ډول تحریف، د شکل پر تغییر یا تصرف، اعتراض(د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۹۵، ماده،۲).

**د آثارو د ملاتړ موده**

پورته یاد آثارپه لاندې توګه تر ملاتړ لاندې نیول کېږي:

۱ - د اثر د منځته راوړونکي چاپ شوی یا خپور شوی اثر، د هغه له وفات وروسته تر پنځوسو کلونو مودې پورې، خو دا چې د خپل حیات پر وخت یې کتباً بل ډول تصمیم نه وي نیولی.

۲ - مشترک اثر د هغه د وروستني منځته راوړونکي له وفات وروسته تر پنځوسو کلونو مودې پورې.

**جانبي حقوق**

د مؤلف تر څنګ چې یو اثر منځ ته راوړي نور کسان هم شته چې را منځته شوی اثر اجرا کوي او د یوه اثر په خپریدو او وړاندې کولو کې آغېزمن واقع کېږي. نوموړي کسان د جانبي حقوقو په نوم له حقوقو څخه برخمن دي. د جانبي حقوقو څخه برخمن کسان عبارت دي له:

**۱ - نمایش ورکوونکی:** د نمایش ورکوونکي څخه موخه ممثل، آواز خوان، دکلمه کوونکی او نور هغه اشخاص دي چې هنر نمایي کوي یا نقش لوبوي او یا ادبي، هنري او فولکلوري آثار نمایش ته ږدي (د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۴، فقره،۲۴).
نمایش ورکوونکی د لاندې حقوقو لرونکی دی:
۱ – د نه ثبت شوو نمایشاتو له غیر مجاز صوتي ثبت څخه مخنیوی او د هغه د بیا تولید څخه مخنیوی
۲ – د هغه د بیا تولید له ثبت څخه مخنیوی.
۳ – د ژوندیو نمایشاتو له لارې عامه خلکو ته د بېسیم او ارتباطاتو له لارې له غیر مجاز خپرولو څخه مخنیوی.
**۲ – د غږیزو آثارو برابروونکي:** د هغو (حقیقي او حکمي) اشخاصو څخه عبارت دي چې د لومړي ځل لپاره یې د هنري اثر د اجرا څخه تر لاسه شوي غږونه او تصویرونه ثبت کړي وي. د غږیزو آثارو تولیدوونکي د لاندې حقوقو لرونکي دي:
۱ – د فونو ګرام مستقیم یا غیر مستقیم بیا تولید
۲ – د فونو ګرام اصل یا کاپۍ په اجاره ورکول
۳ – د فونو ګرام توزیع
**۳ - خپروونکي موسسه :** لکه د نوم څخه یې چې معلومېږي عامه خلکو ته د رادیو او تلویزیون له لارې پروګرامونه خپروي.خپروونکي موسسه د خپرو شوو آثارو تصحیح او د هغو بیا تولید، د بیسیم وسایلو په واسطه خپرول او د تلویزیون د نشراتو له لارې بیا خپرولو انحصاري حقوقو لرونکي ده(نذیر، ۱۳۹۱، ص :۲۲۳).
**پایله**
د معنوي ملکیت حقوق په حقوق ویشنه کې یو نوی مفهوم دی، چې په علمي، ادبي، هنري او سوداګریزو ډګرونو کې د انسانانو د فکري فعالیتونو او محصولاتو څخه ملاتړ کوي او څښتن ته یې د هغې څخه د انحصاري ګټې اخېستنې حق ورکوي. په ټوله کې د معنوي ملکیت حقوق په دوو اصلي برخو ویشل کېږي چې یوه یې د صنعتي ملکیت حقوق او بله یې د ادبي او هنري ملکیت حقوق دي.
د صنعتي ملکیت حقوق د هغې عام مفهوم دی. صنعتي ملکیت په عام مفهوم سره یوازې صنعت او سوداګري په بر کې نه نیسي؛ بلکې د زراعتي او استخراجي صنایعو څانګو او ټول مصنوعي یا طبیعي محصولاتو ته هم شاملېږي.
د صنعتي ملکیت حقوقو مهمې بیلګې له اختراع، سوداګریزو نومونو، سوداګریزو رازونو او صنعتي طرحو څخه عبارت دي. د افغانستان د قوانینو سره سم د معنوی ملکیت حقوقو د بېلابېلو ډولونود ثبت او د

هغې د ملاتړلپاره ځینې شرایط اړین دي  که چېرې یاد شرایط و نه لري د را منځ ته کوونکي او نوښتگر په نوم ثبت کېدای نه شي او همدارنگه د قانوني ملاتړ څخه برخمن کېدای نه شي.
د ادبي او هنري ملکیت حقوق د کتابونو، شعر، ترانې، نقاشي، گرافیکي آثار، خطي نوشتې، حکاکي او داسې نورو ته شامليږي. د معنوي ملکیت حقوق د اثر را منځته کوونکو ته دا ډاډ ورکوي چې د دوی د مادي او معنوي حقوقو څخه ساتنه کېږي.

**وړاندیزونه**

۱ – د معنوي ملکیت دارزښت او د هغې د ساتنې په باره کې دې عامه پوهاوی ترسره شي.
۲ – د معنوي ملکیت سازمان او نورو اړوندو نړیوالو سازمانو سره د ملي قوانینو او اسلامي شریعت په حدودو کې همغږي او همکاري زیاته شي.
۳ – د معنوي ملکیت اړوند شخړو د هواري په موخه دې ځانگړي محکمې را منځته شي.
۴ – د معنوي ملکیت حقوقو د خوندي ساتلو په موخه دې یو پرمختللی دیجیتل سیستم را منځته شي.

## مأخذونه

انتظاری، علیرضا.(۱۳۸۲). مالکیت معنوي.دانشگاه آزاد، بصیرت:سال دهم، شماره ۳۰ و ۳۱. http://ensani.ir/file/download/article/20120326123024-1165-59.pdf

براتی، مرتضی.نورزی، علي.(۱۳۹۲).اشنایی با مفهوم مالکیت صنعتی.مرکز پژهش ها مجلس شورای اسلامی. https://re.majlis.ir

شبیر، محمد عثمان. (۱۳۸۱). حقوق معنوی پدید اورندگان. پرتال جامع علوم انسانی.بهار ۱۳۸۱ شماره ۸.

رجبی، عیسی.( ۱۳۹۴) نام و علامت تجاری، فرایند ثبت و حقوق ناشی از ان.مجله پژوهشای حقوقی(علمي – ترویجی). شماره ۲۸،نیمسال دوم. http://jlr.sdil.ac.ir/article_32046.html

مبشري، ژاله.سلطانی، امید. (۱۳۹۴) شرایط ماهوی ثبت اختراع در نظام حقوقی ایران. دومین کنفرانس بین المللی پژوهش های نویندر مدیریت، اقتصاد و حسابداری.تهران. https://civilica.com/doc/439974

کاتوزیان، ناصر.(۱۳۹۰). دوره مقدماتی حقوق مدنی اموال و مالکیت. چاپ سی وپنجم. تهران: نشر میزان

میرحسینی، سید حسن.(۱۳۸۵). مقدمه ای بر حقوق مالکیت معنوی. تهران: نشر میزان.

ناصح، ولي محمد.(۱۳۹۱).حقوق ملکیت معنوی. درسي لکچر نوټ.

نذیر، داد محمد.(۱۳۹۱). حقوق مالکیت معنوی در فقه اسلامی و قوانین وضعی. کابل: انتشارات رسالت.

یو شمېر لیکوالان.(۱۳۸۷). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل: د یو ایس ای ډي په مالي ملاتړ.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹٦). د مخترع او مکتشف د حقوقو د ملاتړقانون. د رسمي جریدې ۱۲۵۸ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون. د رسمي جریدې ۱۲۳۳ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ(کاپي رایټ) قانون. د رسمي جریدې ۱۲۳۰ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د صنعتي طرحو د ملاتړقانون. د رسمي جریدې ۱۲۲۱ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۸۸). د سوداګریزو نښو د ثبت قانون. د رسمي جریدې ۹۹۵ ګڼه.

WIPO. (2008). WIPO intellectual property handbook. Second edition. Geneva.

WTO. (1994). Agreement on Trade-Related Aspects of Intellectual Property Rights. Marrakesh.

# A short introduction to intellectual property rights

Senior Teaching Assistant Fazal Rahman Ayoubi, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Political Science and International Relations Department.
**Email:** fazal.ayoubi@yahoo.com

## Abstract

Intellectual property refers to creations of the human mind that are intangible form of property, such as inventions; literary and artistic work; designs; and symbols, trademarks and images used in commerce. Intellectual property provides certain inclusive rights to the inventors or creators of the property, in order to enable them to earn recognition or financial benefit from their creative efforts or reputation. This paper offers a concise introduction to the concept of intellectual property rights, including its various forms. Intellectual property rights encompass various form, including patent, copy rights, trademarks and trade secrets. Patent protect inventions, copyrights safeguard literary and artistic works, trademarks distinguish products and services, and trade secret safeguard confidential business information. By striking the right balance between the interest of innovators and the wider public interest, the intellectual property system aims to nurture an environment in which creativity and innovation can flourish. These rights incentivize innovation, foster economy growth by promoting investment, trade, and technological advancement. This research employs a descriptive design, collected data through the library-based method.

**Keywords**: copyright, intellectual property, trademarks, trade secret, patent.